مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال ۲۰۲۴/۰۳/۱۲

# فلسفه او د علومو بنکلا

## ۲ څپرکی

د دي سر لیک موخه فلسفه او د فلسفي د تاریخ څېړنه نده او نه غواړو د فلسفي پېچلي او ژور بحث ته ورننوځو... یوازې غواړو، په څو ټکو کي فلسفه وپېژنو او فلسفه په اصطلاح د علومو د توکواوموادو دمور په توګه په دغه لیکنه کي معرفي کړو.

په دایرت المعارف کي د فلسفي په اړه داسي کښل شويدي:

«فلسفه په علمي مسایلو کي دتفکر، تعمق ، حکمت، هغه علم دی چي د اشیاو له مبادیبو او د هغو د وجود له عللو څخه بحث کوي.»[1]

فلسفه د ټولنیز شعور یو لوړ شکل دی، خو د ټولنیز شعور هغه بنه، چي په ټوله کي د معنوي او مادي لاملونه ټولګه وي.

د فلسفي مو همه وظیفه د طبیعت او ټولنیزو قوانینو درک او پېژندنه ده او په ځانګړي ډول یي د علومو بنستیزه سرچنه بللی شو. د ټولني په سیاسي حقوقي او په نورو ټولنیزو مناسباتو ژوره اغیزه د فلسفي نور موهم توکي دي او هغه چا چي د فلسفي پیل ته غاړه ورکړه یو هم نامتو فیلسوف «اپیکور» وه . (۲۷۰-۳۴۲ م ز)

ده لومړی د اتن په ښار کي د یوه ښوونځي بنسټ کېښود او بیا یي د فلسفي اندونو پخلی وکړ او فلسفه یي د epieurianisme اپیکوربانیزم پنوم نامتو شوه .

ولي دا به ګرانه وي، چي ځوک دي په ځغرده ووایي، چي له «اپیکور epieur» نه دمخه کني د فلسفي او په ځانګړي ډول، د ښکلا پېژندني په اړه چي د هنر له فلسفي سره تړاو ورکول کېږي څرګندوني نه وي شوي!؟

د ډرامي تاریخ او فن په کتاب کي راغلي دي چي له مخزیږدي نه پنځه سوه (۵۰۰ ز) کاله پخوا د یونان د آتن ښار د هنري او ادبي وړتیا له مخي د شهرت لوړي کچي ته رسیدلي وو. په دغه پېر کي سترو لیکوالو ایسکلیس (۴۵۶-۵۲۵ م ز)، سوفوکلیز (۴۹۶-۴۵۶ مخزیږدی) اوایوروپیدیس (۴۸۰-۴۰۶ ز) دومره ادبي او ښکلاییزي هنری لاسته راوړني درلودلي، چي یوازي «سوفوکلیز» شل (۲۰) واري ادبي جایزه ګټلي وه»[2]

د فلسفي یو شمېر تاریخپوهان په دي ټینګار کوي، چي د یونان فلسفه لومړی «تالس» پیل کړه ، ولي «رانسل» په ټوله کي په دي اند دی، چي د بشر په تاریخ کي په ناڅاپي او نابېره توګه په یونان کي د پوهي او تمدن پرمختګ حیرانوونکی وه.

د تا لس همها له دوه تنه ملګري پوهان، چي یو یي انکسیمندروس» او بل یي انکسیمانوس نومېد ل هم نامتو ول .

له تالس نه کوم لیکلی اثر تر دغه دمه تر لاسه شوی نه دی، ولي انکسیمندروس او انکسیمانوس په یوناني ژبي په شپږمي مخزیږدي (۶ م ز) پېړی کي لیکني کولي.

ولي بیاهم تالس د یونان لومړنی فیلسوف ګڼل شویدی ، چي د مخزیږدي شپږمي پېړی په دویمي نیمایي کي فلسفي نظریات وړاندي کول.

له دغو درې تنو وروسته بل یي «دیوجانس» وه، چي په پنځمي مخزیږدي پېړی کي د «کرت» په ټاپو کي له خپلو فلسفي اندونو سره ژوند کاوه.

ورپسي دده همزولی «هرکلیتوس» (۴۷۰ م ز کي مړ) وه، چي په طبعي، اخلاقي او عقلي علومو کي د پام وړ فلسفي نظریات په میراث پرېښودل. ولي «کارل ریموند پوپر» په دی اند دی چي د یونا ن لومړنی فیلسوف «هنریود» وو.[3]



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ولې په دغه پېر کې د ښکلاپېژندنې او هنري توکو په تړاو هم نظري او عملي ګامونه پورته کېدل. د ساري په توګه په ۵۳۵ م ز کال د «تس پیس» په نوم یوه ادبپوه هنرمند د یونان په اتن کې له هنري ښکلا ډک یو اثر د خلکو ننداري ته وړاندې کړ. که «تالس» د یونان لومړنی فیلسوف وه، خو «تس پیس» د یونان لومړنی هنرمند او لوبغاړی وه، چې د ستیج او درېځ په سر یې یو ګټور له ښکلا ډک اثر د اتن خلکو ته وښود.
د تالس او تس پیس تر مینځ یوازې د دوه لسیزو په شاوخوا کې د عمر توپیر شتون درلود. دا ځکه چې تالس نږدې د هرکلیتوس همزولی وه او په ۵۰۱ م ز کال د «آفس» په ښار کې زېږېدلی وه او د دې ښار یواځنی فیلسوف ګڼل شوی دی.
د تالس یو نامتو شاګرد «انکسیمندروس» وه او ده له ۴۹۴ ز کال نه دمخه سترګې نړۍ ته پرانستې وې، که تالس د یوه فیلسوف، تس پیس او «اشیلوس» د ښکلاپېژ هنر د نامتو هنرمندانو په توګه د ټولنې په کلتوري ارزښتو بحث کړیدی. ولې له دې پرته د فزیلوژي، بیولوژي، سوسیولوژي او د نورو طبعي او ټولنیزو علومو پوهانو په ځاروېیو انسانانو او د طبیعت ښکلا پېژندنې په تړاو هم اوږدې څېړنې او څرګندونې کړیدي.
طبیعت یوازې د ښکلا، د پټې دب دبې سمبول نه دی، بلکې د ځاروېیو او انسانانو د پیداینښت، روزنځای اود ژوند ټاټوبی هم ګڼلی شوی دی.
طبیعت د لومړنیو انسانانو لپاره نه یوازې د ژوندانه د لومړنیو توکو، وسیلو او اسانتیاو د شتون ټاټوبی وه، بلکې په طبیعت کې د ښکلا دب دبه او د ښکلا پېژندنې توکې هم دومره په زړه پورې ول، چې د طبیعت د بېلابېلو رنګینو لمانځنه کوله، ځکه دوئ په دې پوهېدل، چې ښکلا ، له طبیعت نه سرچینه اخلي او طبیعت له ښکلا نه...نو ځکه خو یې د سیندونو، غرونو، ځنګلونو، لمر، سپوږمۍ، ستورو او ان د طبیعت له بدرنګیو هم چې د طبیعت ښکلا ته یې زیان رساوه لمانځنه کوله، چې موږ توپانونه، زلزلې، برېښنا او بابا غور غوري د بېلګې په توګه یادولی شو.
اوس هم موږ ځنې مذهبونه ګورو، د ساري په توګه د بودیزم بېلابېل د لمانځنې توکیو رب النوع، مزدکونه، عبادت ځایونه، د دوئ په لاس جوړ شوی خدایان او نور د یادولو وړ دي، چې دی د یو شمېر توکو ظاهری بڼه یې ښکلې او د یو شمېر نورو څېرې دومره بدرنګې دي، چې ماشومان وېروي، خو بیا هم دوی له خپلو ښکلو او بدرنګو خدایانو خپلې غوښتنې لري او په دې پوهېږي، د بودیزم د فلسفې له مخې چې له چانه په کوم وخت کې مرسته وغواړي؟!
د زکر شوو فیلسوفانو په لړ کې هر کلیتوس د طبیعت د ښکلا په اړه په دې اند وه، چې نړۍ او طبیعت تل بدلون مومي. ده باور درلود چې د طبیعت شنبلې، ځاروي، ژبوی او ان دېرین توکې دودې او بدلون پړاوونه وهي. نوموړي ټینګار کاوه موږ یو ګل دوه کرته نه شو بویولي...یوازې اور دی، چې هېڅکله نه مري او د تودوخې شتون له لاسه نه ورکوي. او رابدې اوازلي دی، هر څه په ځان کې وېلې کوي او حلوي یې.
ولې ارسټو د یوه متفکر انسان په توګه تل د دې پخلی کاوه چې ټول طبعي توکې او شته، د یوه تلپاتې او ثابت نظام تابع دي.
ارسټو د طبیعت په لمنه کې ښکلاپېژندنې هنرونو ته انځوریز او تقلیدي هنرونه ووېل، چې هنرمن سوژه او ښکلاپېژ ارزښت له طبیعت څخه اخلي، پخپلو ګوتو د طبیعت ښکلا په یوې نوې بڼه پنځوي اوانځوروي ، بیا یې ټولنې ته وړاندې کوي.
«تالس ټینګار کاوه چې اوبه د هر ډول ژوند اساس دی او د ټولو توکو د تکوین بنسټ یې ګڼلی شو....»[4]
ولې ارسټو د تالس د خبرو پخلی په دې ټکو کړیدی: «تالس په دې عقیده وه، چې د باران اوبه د «شنلېیو» او بوټو د ودې او د باران له رطوبت نه د ځاروېیو د تناسلي مادې پیداینښت وه.»[5]
د تالس یوه شاګرد «انکسیمندروس» د «طبیعت» په نوم یو کتاب په میراث پرېښود او ده په دې کتاب کې کاږلي دي، چې اوبه د شیانو اصل نه دی او بیا د شیانو په مادیتوب ټینګار کوي.
دده په اړه نورو فیلسوفانو لیکلی دي، چې نوموړی له سقرات نه دمخه د فلسفي نظریاتو او اندونو له مخې د نوښت او نبوغ څښتن وه.
دی لومړنی کس وه، چې جغرافیوي نخشه یې وکاږله او په څو ټکو یې ټینګار وکړ:
۱ـ د ځمکې سطحه منحني ده.
۲ـ د ځمکې د کرې په بله برخه کې د بدلون منونکو توکو چاپېرپال چې زموږ د کرې په څېر د یوې بلې نړۍ شتون په ګوته کوي.
۳ـ ځمکه په هوا کې ځوړنده ده او عقل د حقیقتونو په موندنه کې موهم نخش لري.
د یونان په لرغوني تاریخ کې، نه یوازې د فلسفي نظریاتو او اندونو پخلی شویدی او ګڼشمېر پوهانو په دې اړه څرګندونې کړیدي، بلکې د داسې پوهنو او علومو بنسټونه یې هم ایښې دي، چې له دوېنه وروسته نورو څېړونکو او پوهانو په هغه لاره کې ګټور ګامونه پورته کړیدي.
د اتن په ښار کې نه یوازې د فلسفې په تړاو څرګندونې شویدی، بلکې د بېلابېلو، علومو، فنونو، ښکلاپېژندنې هنرونو اوادبیاتو په اړه هم لیکنې او څېړنې شویدي.
په آتن کې، ښکلا پوهنه ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دهنر او ادب پېژندنه
آتن athens د یونان یوه لرغوني سیمه ده، چې په لرغوني تاریخ کې د لرغوني تمدن یو نامتو پلاز او مرکز بلل شویدی، چې د یونان د هېواد، د «آتیکا» په مرکزي ډګر کې پروت دی.
د موزیم هغه غونډۍ، چې په سهل کې موقعیت لری، له داسي توکو ډکه ده ، چې ډېرینې خوني په کې له ورایه تر سترګو کېږي ، ان ښوونېز، پوهونیزاو ښکلاییز ارزښت یې له حیرا نتیا ډک برېښي.
که موږ د ساري په توګه له ښکلا ډکه هغه مانۍ چې د یونان د هغه مهال یو لمانځای وه تاسو ته په ګوته کړو، چې په ۴۳۸ مخزېږدی کال بشپړه شوه نو هرومر و به ووایي چې له عجایبوډکه ډېره د پام وړ ګڼلی شي .
دا چې د وخت مهندسین او هنرمندان څومره دښکلا پوهني په نزاکتونو پوهېدل اوبیا دېته هڅول شویدي، چې داسي یو شهکار نړی ته په میراث پرېږدي ، دحیرانتیا خبره ده .
ښایي ددي یو ستر لامل هم د اوي چې، لومړی د طبیعت ښکلا او دویم پخپله د مانۍ دجوړوونکو هنري ځیرکتیا او ستعداد وه، چې د «آتینا پارتینوس» معبد یې وپنځوه ... هنرمند د خپلې پوهې له مخې، د یوه هنري اثر د پنځولو لپاره، په سر کې دده فکر اوتخیل ته دښکلا پوهني له مخې ،له ښکلا ډک یو احساس رامینځته کېږي او بیا همدغه د ښکلا پېژندنې هنري ځواک او واک دی دېته هڅوي، چې خپل اثر ته تلپاتي ارزښت او پایښت وبښي.
د «اتینا پارتینوس» اثر د «پیري کلیز» دپوهني، ښودني او سپارښتني لاندې د هغه معبد پر ځای چې د «تمس تاکلیز» پیل کړی وه ، ورغول شو، چې بیا د سرو زرو له تختو جوړ شو.
د آتن د لرغوني تاریخ په دغو شېبو کې نوري دا ډول له ښکلا ډکې مانۍ او اثار چې ښکلاییزه دب دبه یې لا تر دغه دمه زړه راښکونکې ده رغاول شویدي، چې موږ د «پروپي لیا»(۴۳۷م ز اثر چې له مرمرو جوړ شوي دی) ایرک تیوم ، د «دیوني سوس تایتر»، د «اسکلي پیس» معبد، د «پیریکلیز» سندریز غالی او نور د بېلګې په توګه یادولی شو.
په یادو مانیو کې یو شمېر ادبي او هنري فعالیتونه هم تر سره کېدل او د پام وړ خبره خو دا وه، هر فیلسوف چې دښکلا پوهني له مخې د کوم اند او فکر څښتن وه، هغو د هنر، ادب او ښکلا پېژندنې په اړه هم انګېرنې او څرګندونې وړاندې کړیدي.
د آتن په ادبي او هنري تاریخ کې، د فلسفي ښکلا پوهني داند او فکر په رڼا کې داسي کسان لکه اشیلوس، ارستو فانس، سقرات، اپلاتون او ارستو هم پېژنو چې د فلسفي د بېلابېلو علومو، فنونو، هنرونو او ښکلا پېژندنې په تړاو یې نه یوازې د خپل نظر او اند یخلی کړیدی، بلکې په عملي ډګر کې هم عملي ګامونه پورته کړیدي.
د اشیلوس په وخت د آتن په ښار کې یو هنري فستیوال رامینځته شو، بیا هر لیکوال خپل هنري او ډراماتیک اثارونه کاندید کړل ، چې په دغه لړ کې یوازې اشیلوس «۹۰» اثار کښلي وه، چې ۱۳ هنري پنځوونو یې لومړۍ درجه جایزه خپله کړه او د سروزرو او سپینو زرو تاج ورته په سر کړی شو.
د یو شمېر لاسوندونو له مخې، د آتن په ښار کې هغه ستر انځوریز اثر چې لومړی هنرمندانو هغه د نخشې په بڼه ډیزاین کړی وه او بیا یې د هغې له مخې یوه ستره استوپه او مانۍ په ۵۳۰ مخزېږدي کال ودانه کړه.
د دې معبد لومړنی مهندس او هنرمند «پي سیس تر اتوس» وه ،چې ده پرې کار پیل کړ او ۷۰۰ کاله پرې ولګېدل.
د دغې «ارتستیکې» مانۍ په جوړوولو په بېلابېلو مهالونو کې سلګونو هنرمندانو او مهند سانو دخپلې ښکلا پوهنې له مخې زیار وګاله چې تر اوسه یې هنري دب دبه لا همغسې له کلنکاری ډکه پکه ده.
په دغې سینګار شوې او له ښکلا ډکې مانۍ کې اپلاتون خپلو شاګردانو ته درس وایه او له دې ځای لږ وړاندې یوه بله نامتو مدرسه وه، چې «انتس تینس» درس ورکوه، خو د «لیسیم» ځای تر اوسه ندی پېژندل شوی چې د ارستو د درس ځای وو.
موږ چې دمخه د کومو نامتو فیلسوفانو یادونه وکړه، دوئ تر ډېره بریده د آتن نه بېرون او په اتن کې دننه روزل شوي وه. ولي د مخزېږدي پنځمې پیړۍ په نیمایي کې، یونان د فلسفې، علم، هنر او ادب یو ستر ټاټوبی وه په ځانګړي ډول د بریکلس په مهال، (۴۳۰-۴۶۰ م ز) یونان د علم، ادب او هنر ویاړلی پلاز وه.
د ډېرې حیرانتیا خبره خو دا وه، چې نه یوازې په یونان او په ځانګړی ډول اتن کی فلسفي تفکر او اندونو پرمختګ وکړ، بلکې انساني معارفت، انځورګری ، موسیقی، طب او ریاضي هم خپل وزرونه پرانستل .
که له یوې خوا په فلسفه او بېلابېلو علومو، فنونو او هنرونو کې پرمختګونه تر سترګو کېدل، خو له بلې خوا د «نصرانیت» تعصب هم ریښې ځغلولي او هر څه د پاپ او امپراتور په خدمت او ولکه کې وه ، ان تر دې چې نامتو تولواک او امپراتور «جستي نین» په ۵۲۹ میلادي کې د ډېرو فلاسفه وو مدرسې او روزنځایونه وتړل، دلته دی چې د آتن علمي مرکز وروړو خپل ارزښت له لاسه ورکاوه او خبره دېته ورسېده چې «پارتي نان» د بي بي مریمې په کلیسا بدل شو.
په مینځنیو پېړیو کې تولو علمي، هنري او ادبي پرمختګونو ډېر زیانونه ولیدل ، نو ځکه خو موږ د بشریت په تاریخ کې د «رونسانس» اصطلاح کار وو، چې د بیا علومو د ژوند په مانا دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که نصرانیانو پارتي نان د بي بي مریمي په کلیسا بدل کړ، خو مسلمانانو په ۱۴۵۶ ز کال، کله چې ترکانو د «آتن» ښار لاندې کړ د «پارتي نان» کلیسا یې په جومات واړوله.
د لته ګورو، چي دښکلا پوهني له مخي « دپارتي نان parthenon» اثردهنري اومهندسي ارزښت له مخي دمطلقي ښکلادرلودونکی دی ، خود مذهبي عقیدې له مخي يي دپارتي نان ښکلا دنسبتي ښکلا بڼه خپله کړېده .
د آتن ښار که څه هم اوس هغه لرغوني علمي او تاریخي دب دبه نه لري، ولې بیا هم تر یوه بریده داسي ځایونه لري چي د پام وړ دي لکه دارت او ساینس اکادیمی، شاهي مانی، د تیاتر او نندارتون د لرغونی مانۍ اوښتی بڼه، موزیم، پوهنتون، د وکیلانو مانی، کتابتون، مدرسي، چي لرغوني بڼه لري او نور د ساري په توګه یادولی شو.

---

[1]) دایرة المعارف ۷ توک ۶۷۷ مخ
[2]) د ډرامي تاریخ او فن ۸ مخ
[3]) کارل ریموند پوپر خپلواکه ټولنه....۲۵ مخ
[4]) تاریخ فلسفه د ایتي ژباړه تهران دویم چاپ ۲۰ مخ
[5]) همدغه اثر همدغه مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ